د افغانستان دموکراتیک جمهوریت

د عدلیې وزارت

# رسمي جريده

شمــاره «۱۱» ـ ۱۵ سنبله ۱۳۵۸

نمبر مسلسل (۴۳۴)

## دریــن شماره

۱ـ قانون محکمهٔ فوق العــاده انقلابی .

۲ـ قانون څارنوالي اختصاصی دافغانستان دګټو ساتونکــی اداره ( اګسا ) .

مسئوول مدیر غفار ګرامی
مرستیال روح ګل نوری
مهتمم نورعلم

# رسمی جریده

عبد الحکیم شرعی جوز جانـــی
د عدلیی وزیر !

د وزیرا نو مجلس په «۱۷۷۷» گڼه پر یکړه کی د ۱۳۵۸ کـال د اسد د میاشتی د نهمی نیټی پـــه غونډه کی دعدلیی د وزارت‌د ۱۳۵۸ کال د اسد د میاشتی د نهمی‌نیټی «۱۶۹۲» گڼی عرض پاڼی ته په‌کتنه لاندی مراتب تصویب کړل :

«د انقلابی فوق العاده محکمـــی قانون په نهو مادوکی منظـور دی. پدی هکله دی تقنینی فرمان په‌لاس راوړل شی . »

د وزیرانو د مجلس د تصویـب مراتب‌چی د افغانستان د دموکراتیك جمهو ریت د انقلابی شورا درئیس له حضوره منظور او د انقلابی‌شورا د ۱۳۵۸ کال د اسد د میاشتـــی دیوویشتمی نیټی په «۲۸٤٤» گڼه تقنینی فرمان تائید او حکومت تـه ابلاغ شوی دی ، تاسی ته خبــر درکړ شو او ددغه لیك په ملتیـــا دنوموړی قانون یوه کاپی در لیږل کیږی چی په رسمی جریده کـــی خپور شی .

**حفیظ الله امین**
**لومړی وزیر**

عبدالحکیم شرعـی جوزجـــانی
وزیر عدلیه !

مجلس وزراء تحت فیصلـــــۀ شماره «۱۷۷۷» در جلسۀ تاریخـی ۹ر۵ر۱۳۵۸ با ملاحظۀ ورقۀ عــرض شماره «۱۶۹۲» مـورخ ۹ر۵ر۱۳۵۸ وزارت عدلیه مراتب آتی را تصویب نمود :

«قانون محکمۀ فوق العادۀانقلابی بداخل نه ماده منظور اسـت . در زمینه فرمان تقنینی گرفته شود.»

مراتب تصویب مجلس وزراء که به منظوری حضور رئیس شورای انقلابی جمهو ری دمو کرا تیـــك افغا نستان رسیده وبــــه فـر مان تقنینی شماره «۲۸٤٤» مور خــــه ۲۱ر۵ر۱۳۵۸ رئیس‌شورای انقلابی تائید و بحکو مت ابلاغ گردیـــده بشما اطلاع و توام هذا یك کاپی از قانون مذکور ارسال میگردد تا در جریدۀ رسمی نشر گردد .

**حفیظ الله امین**
**لو مړی وزیر**

# رسمی جریده

## دانقلابی فوق العاده محکمی قانون

### لومړی ماده :

د انقلابی فوق العاده محکمی په نامه اختصاصی محکمه‌د افغانستان د دموکراتیک‌جمهوریت د انقلابی شورا د رئیس په فرمان جوړیږی.

### دوهمه ماده :

انقلابی فوق العاده محکمه له رئیس او دوه‌و نه تر خلورو غړو متشکله ده چی د افغانستان د دموکراتیک جمهوریت د انقلابی شورا د رئیس په فرمان ټاکل کیږی .

### دریمه ماده :

د انقلابی فوق العاده محکمی میشتځی په کابل کښی دی او د ایجاب په صورت کولای شی چی د کابل له ښار نه بهر غونډه جوړه کړی .

### څلورمه ماده :

د انقلابی فوق العاده محکمی صلاحیت د هغو جرمونو په هکله غور کول دی چی د ځمکی‌د تمامیت ملی حاکمیت او خپلواکی په‌خلاف او د افغانستان د دموکراتیک جمهوری دولت په خلاف ارتکاب شوی او د عاجل تصمیم مستلزم‌وی او د اگسا داختصاصی څارنوالی له خوا ورته محول شی .

## قانون محکمهٔ فوق العادهٔ انقلابی

### مادهٔ اول :

محکمهٔ اختصاصی بنام محکمهٔ فوق العادهٔ انقلابی بفرمان رئیس شورای انقلابی جمهوری دموکراتیک افغانستان تاسیس میگردد.

### ماده دوم :

محکمهٔ فوق العادهٔ انقلابی‌متشکل از رئیس و دو الی چار نفر عضو میباشد که بفرمان رئیس شورای انقلابی جمهوری دموکراتیک افغانستان تعیین میگردند.

### ماده سوم :

مقر محکمه فوق العادهٔ انقلابی‌در شهر کابل بوده و عند الایجاب‌می تواند خارج از شهر کابل تشکیل جلسه دهد .

### ماده چهارم :

صلاحیت محکمه فوق العاده انقلابی‌شامل رسیدگی‌به جرائمی است که‌علیه تمامیت ارضی حاکمیت واستقلال ملی وعلیه دولت جمهوری دموکراتیک افغانستان ارتکاب گردیده و مستلزم تصمیم عاجل باشد واز طریق خارنوالی اختصاصی اگسا به آن محول گردد .

د اگسا اختصا صی څارنوال د الزام د دلایلو د اقامه کولو لپاره د انقلابی فوق العاده محکمی په غونډو کښی ګډون کوی .

**پنځمه ماده :**

په انقلابی فوق العاده محکمه کښی محا کمه د افغا نستان د دمو کرا تیك جمهو ریت د انقلابی شورا د فر مانونو او د هیواد د نافذو قوا نینو له حکمونو سره سمه صورت مو می .

**شپږمه ماده :**

د انقلابی فوق العاده محکمی‌حکم قطعی دی .

**اومه ماده :**

انقلا بی فوق العاده محکمه دهغی دړنگیدلو تر وخته پوری چی‌د افغا نستان د دموکرا تیك‌جمهوریت دانقلابی شورا د رئیس په فرمان صورت مو می ، خپلی د ندی پای ته رسوی .

**اتمه ماده :**

انقلا بی فو ق العا ده محکمه د افغا نستان د دموکرا تیك جمهوریت دانقلابی شورا رئیس ته مسوو لیت لری .

**نهمه ماده :**

دغه قانون په رسمی جریده کښی له خپریدو ورو سته نافذ یږی .

څار نوال اختصا صی اگسا بمنظور اقامه دلایل الزام درجلسات محکمه فوق العاده انقلابی اشتراك میکند .

**ماده پنجم :**

محاکمه در محکمهٔفوق العا دهٔ انقلابی مطابق احکام فرا مین شورای انقلابی جمهو ری دموکرا- تیك افغانستان و قوانین نافذ کشور صورت میگیرد .

**ماده ششم :**

حکم محکمهٔ فوق العاده انقلا بی، قطعی میباشد .

**ماده هفتم :**

محکمه فوق العاده انقلابی‌الی زمان انحلال آن که بفرمان رئیس شورای انقلابی جمهو ری دموکرا- تیك افغا نستان صورت میگیرد ، وظایف خود را انجام میدهد.

**ماده هشتم :**

محکمهٔ فو ق‌العادهٔ انقلابی نزد رئیس شورای انقلا بی جمهو ری دمو کرا تیك افغا نستان مسوولیت دارد .

**ماده نهم :**

این قانون بعد از نشر درجریدهٔ رسمی نافذ میگردد .

# رسمی جریده

## عبد الحکیم شرعی جوز جانی

## دعدلیی وزیر !

دوزیرا نومجلس په «۱۸۰۷» گڼه پر یکړه کښې د ۱۳۵۸ کال دسنبلې د میاشتې د څلور می نیټې په غونډه کښې د عدلیې د وزارت د ۱۳۵۸ کال داسد دمیاشتې د نه‌ویشتمې نیټې «۱۹٤۰» گڼې عرض پاڼې ته پر کتنه لاندې مراتب تصویب کړل :

«د اگسا د اختصاصي څار نوالي قانون په اتلس ما دوکې د ننه منظور دی . په دې هکله دې تقنیني فرمان واخیستل شي .»

د وزیرانو د مجلس د تصویب مراتب‌چې د افغانستان د دموکراتیك جمهو ریت د انقلابي شورا د رئیس له حضوره منظور شوی‌او د انقلابي شورا د رئیس د ۱۳۵۸ کال دسنبلې دمیاشتې د پنځمې نیټې په «۲۸۸۹» گڼه تقنیني فرمان تائید او حکومت ته ابلاغ شوی‌دی تاسې ته خبر در کړل شول او د نوموړي قانون یوه کاپي د دې پاڼې سره یوځای در و لیږل شوه چې‌په رسمي جریده کښې خپور شي .

**حفیظ الله امین**
**لومړی وزیر**

## عبد الحکیم شرعی جوز جانی

## وزیر عدلیه !

مجلس وزراء تحت فیصله شماره «۱۸۰۷» در جلسه تار یخی ٤ر٦ر۱۳۵۸ با ملا حظه ورقه عرض شماره «۱۹٤۰» مورخ ۲۹ر٥ر۱۳۵۸ وزارت عدلیه مراتب آتی‌راتصو یب نمود :

«قانون خار نوالی اختصا صی اگسا بداخل هجده ماده منظور است . در زمینه فر مان تقنینی گرفته شود .»

مراتب تصو یب مجلس وزراء که به منظو ری حضور رئیس شورای انقلابی جمهوری دموکراتیك افغا نستان رسیده‌و بفر مان تقنینی شماره «۲۸۸۹» مورخه ٥ر٦ر۱۳۵۸ رئیس شورای انقلابی تائید و بحکو مت ابلاغ گردیده بشمااطلاع و توام هذا یك کاپی از قانون مذکور ار سال میگردد تا درجریدهٔ رسمی نشر گردد .

**حفیظ الله امین**
**لومړی وزیر**

## دافغانستان د گټو ساتونکی اداری (اگسا) د اختصاصی څارنوالی قانون

## لومړی فصل

## عمومی حکمونه

**لومړی ماده :**

دغه قانون د افغانستان د دموکراتیک جمهوریت د انقلابی وظیفو د اساسی کرښو د یوولسمی مادی او د جرمونو د کشف او تحقیق او د تطبیق پر قانونیت یې د څارنوالی د څارنی د قانون دشپږمی مادی دحکمونو په اساس او د افغانستان د گټو ساتونکی اداری د اختصاصی څارنوالی (اگسا) دتاسیس او تنظیم په‌منظور وضع شویدی .

**دوهمه ماده :**

په دغه قانون کښی د جرمونو د کشف او تحقیق او د تطبیق په قانونیت یې د څارنوالی د څارنی قانون د «کشف او تحقیق د قانون» په نامه او د افغانستان د گټو ساتونکی اداره د «اگسا» په نامه یادیږی .

## قانون څارنوالی اختصاصی د افغانستان د گټو ساتونکی اداره (اگسا)

## فصل اول

## احکام عمومی

**ماده اول :**

این قانون به اساس احکام ماده یازدهم خطوط اساسی وظایف انقلابی جمهوری دموکراتیک افغانستان ، ماده ششم قانون کشف و تحقیق جرایم و نظارت څارنوالی بر قانونیت تطبیق آن و بمنظور تاسیس و تنظیم امور څارنوالی اختصاصی د افغانستان دگټو ساتونکی اداره (اگسا) وضع گردیده است .

**ماده دوم :**

در این قانون ، قانون کشف و تحقیق جرایم و نظارت څارنوالی بر قانونیت تطبیق آن بنام «قانون کشف و تحقیق» و د افغانستان دگټو ساتونکی اداره بنام «اگسا» یاد میگردد .

**دريمه ماده :**

د اگسا اختصا صي ځارنوالي د مربوطو وظيفو په پاى ته رسولو کښي د لاندي هد فونو تا مينول په پام کښي نيسي :

۱ـ د افغا نستان د دمو کراتيک جمهو ريت د کورني او بهرني امنيت ضد جر مونو په خلاف مبارزه کول.

۲ـ د ځمکي د تماميت ، ملي حاکميت او استقلال ضد جر مونو په خلاف مبارزه .

۳ـ د ثور د ستر انقلا ب اودهغه د ګټو په ضد جرمونو پر خلاف مبارزه .

٤ـ د افغانستان د دمو کراتيک جمهو رى دولت ضد جر مونو په خلاف مبارزه .

**ماده سوم :**

څار نوالي اختصا صي اگسا در اجراى وظايف مربوط ، تامين‌اهداف ذيل را مدنظر ميگيرد :

۱ـ مبارزه عليه جرايم ضد امنيت داخلي وخارجي‌جمهوري دموکراتيک افغا نستان .

۲ـ مبارزه عليه جرايم ضد تما ميت ارضى ، حا کميت و استقلال ملي .

۳ـ مبارزه عليه جرايم ضد انقلاب کبير ثور و دست آورد هاى آن .

٤ـ مبارزه عليه جرايم ضددولت جمهو رى دمو کراتيك افغانستان.

## دو هم فصل

## تشکيلات

**څلور مه ماده :**

د اگسا اختصا صي څارنوالي متشکله ده له :

۱ـ په مر کز کښي د اگسا اختصاصي څار نوالي .

۲ـ په ولايتو نو کښي د اگسا اختصاصي څار نوالي .

**پنځمه ماده :**

د اگسا د اختصا صي څارنوالي په راس کښي د اگسا اختصاصي څارنوال او په ولايتو نو کښي د

## فصل دوم

## تشکيلا ت

**ماده چهارم :**

څارنوالي اختصا صي اگسا متشکل است از :

۱ـ څارنوالي اختصا صي اگسا در مرکز .

۲ـ څارنوا لي اختصا صي اگسا در ولايات .

**ماده پنجم :**

در راس څار نوالي اختصا صي اگسا ،څارنوال اختصاصي اگسا و در راس څار نوالي هاى اختصاصي

اگسا د اختصا صی ځارنوا لیو پــه را س کښې ـــــــی د ولا ړیتو نـــو اختصا صی ځار نوالان قرار لری.

**شپږمه ماده :**

د اگسا د اختصا صی ځارنوال بست ،داگسا داختصاصی ځارنوالی دمرستیال یامرستیالانو ،مستنطقینو مسلکی اواداری او نورو کارکوونکو بستو نه او شمیر د هغی د کلنـــی بود جی سره سم تاکل کیږی .

**اومه ماده :**

د اگسا د اختصا صی ځارنوال او د اگسا د اختصا صی ځارنوالی د نورو کار کوونکو تقرر ، تبدیلی عزل ، ترفیع او تقاعد د قانــون د حکمو نو سره سم صورت مومی .

**اتمه ماده :**

د خلکو د وسله والو قـــواوو افسران او واړه ضا بطان چـــی د اگسا په‌اختصا صی ځارنوالی کښی وظیفه پای ته رسوی د خلکـــو د وسله والو قواوو د قوا نینـــو او مقر را تو تابع دی له مر بوطـــو امتیا زاتو نه ګټه اخلی .

**نهمه ماده :**

د اگسا د اختصا صی ځارنوالی تشکیل او کلنی بودجه د افغانستان د دمو کرا تیک جمهـــــو ریـت د لو مړی‌وزارت د تشکیل اوبودجی دجزء په ډول‌ترتیب او تنظیمیـــږی.

اگسا در ولایات ، ځارنوالهـــــای اختصا صی ولایات قرار دارند .

**ماده ششم :**

بست ځارنوال اختصاصی اگسا بست‌وتعداد مرستیال یامرستیالان، مستنطقین ، کار کنان مسلکـــــی و اداری و سایرکار کنان ځارنوالی اختصا صی اگسا مطابق بودجـــــه سالانه آن تعیین میگردد .

**ماده هفتم :**

تقرر ، تبدیلی ، عزل ، ترفیـــع و تقاعد ځارنوال اختصاصـــــی اگسا و سایر کار کنان ځارنوالی اختصا صی اگسا مطابق به احکام قانون صورت میگیرد .

**ماده هشتم :**

افسران و خورد ضا بطان قوای مسلح خلق که در ځارنوالــــــی اختصا صی اگسا اجرای وظیفــــه میکنند تابع قوا نین و مقررات‌قوای مسلح خلق بوده از امتیا زات‌مربوط استفا ده مینما یند .

**ماده نهم :**

تشکیل و بودجه‌سالانه ځارنوالی اختصاصی اگسا بحیث جزء تشکیل و بودجه لمړی وزارت جمهـــو ری دمو کرا تیک افغا نستان تر تیب و منظور میگردد .

## دریم فصل

## وظیفی او واکونه

**لسمه ماده :**

د اگسا اختصاصی خار نوالی لاندی وظیفی او واکونه لری :

۱ـ انقلابی فوق العاده محکمی ته د انقلابی فوق العاده محکمی د قانون د څلورمی مادی مندرجو جرمونو پوری د مربوطو دوسیو احاله کول .

۲ـ د کشف او تحقیق د قانون د حکمونو سره سم د اگسا په ساحه کښی د جرمونو د کشف او تحقیق د اجراآتو په قانونیت څارنه کول .

۳ـ د کشف او تحقیق د قانون د (۲۳) او (۲۷) مادو د مندرجو حکمونو په پام کښی نیولو سره د اگسا د موظفینو او د اگسا د اختصاصی خار نوالی د موظفینو د وظیفوی جرمونو تحقیق کول .

۴ـ د کشف او تحقیق د قانون د دری خلو یښتمی مادی مندرجی وظیفی او واکونه .

۵ ـ د هغو جرمونو د احصائیی ترتیبول چی کشف او تحقیق یی د اگسا له خوا کیږی .

۶ـ نوری هغه وظیفی او واکونه چی د کشف او تحقیق د قانون په حکم ورته سپارل کیږی .

## فصل سوم

## وظائف و صلا حیت ها

**ماده دهم :**

خارنوالی اختصاصی اگسا دارای وظایف و صلاحیت های ذیل میباشد :

۱ـ احاله دوسیه مربوط بجرایم مندرج ماده چهارم قانون محکمهٔ فوق العاده انقلابی ، به محکمه فوق العادهٔ انقلابی .

۲ـ نظارت بر قانونیت اجراآت کشف و تحقیق جرایم در ساحه اگسا مطابق احکام قانون کشف و تحقیق .

۳ـ تحقیق جرایم وظیفوی موظفین اگسا و موظفین خارنوالی اختصاصی اگسا با در نظر داشت احکام مندرج مواد (۲۳) و (۲۷) قانون کشف و تحقیق .

۴ـ وظایف و صلاحیت های مندرج ماده چهل و سوم قانون کشف و تحقیق .

۵ـ ترتیب احصائیه جرایمیکه کشف و تحقیق آن توسط اگسا صورت میگیرد .

۶ـ سایر وظایف و صلاحیت های که بحکم قانون کشف وتحقیق به آن محول گردیده .

# رسمی جریده

**یوو لسمه ماده :**

داگسا اختصاصی څارنوا لی په قانونیت باندی د څارنی په وخت کښی د کشف او تحقیق د قانون د دوه څلو یښتمی مادی مندرج مکلفیتو نه په پام کښی نیسی .

**دو لسمه ماده :**

د اگسا د اختصا صی څارنوالی مستنطقین په مربوطه ساحه کښی د کشف او تحقیق د قانون دحکمونو مندرجی وظیفی او واکونه لری .

**دیار لسمه ماده :**

د اگسا اختصا صی څار نوالی د اگسا په ساحه کښی د نیول شویو توقیف لاندی او محبوسو اشخاصو د ساتلو د قانونیت څارنه کوی .

**څوار لسمه ماده :**

د اگسا اختصا صی څارنوالی دخپلو وظیفو په پای ته رسولو کښی د دغه قانون ، د کشف او تحقیق دقانون او د نورو قوانینو حکمونه په پام کښی نیسی .

**پنځلسمه ماده :**

د اگسا اختصا صی څار نوال لاندی وظیفی او واکونه لری :

۱ـ داگسا د اختصا صی څارنوالی د اجرا آتو تنظیم او لار ښوونه .

**ماده یاز دهم :**

څار نوالی اختصا صی اگسا هنگام نظارت بر قا نونیت مکلفیت های مندرج ماده چهل و دوم قانون کشف و تحقیق را مد نظر میگیرد.

**ماده دوازدهم :**

مستنطقین څار نوالی اختصاصی اگسا در ساحه مربوط دارای وظائف و صلا حیت های مندرج احکام قانون کشف و تحقیق میبا شند .

**ماده سیز دهم :**

څار نوالی اختصا صی اگسا در ساحهٔ اگسا ، قا نو نیت نگهداری اشخاص دستگیر شده ، تحت تو قیف و محبوس را نظا رت مینماید .

**ماده چار دهم :**

څار نوالی اختصا صی اگسا در اجرای وظایف خوداحکام این قانون، قانون کشف و تحقیق و سایر قوانین را مدنظر می گیرد .

**ماده پانزد هم :**

څار نوال اختصاصی اگسادارای وظائف و صلا حیت های ذیل میباشد :

۱ـ تنظیم و رهنمایی اجراأت څار نوالی اختصا صی اگسا .

۲ـ د اگسا د اختصاصی خارنوالی د وظیفو د پای ته‌رسولو او د واکونو نه د استفادې کولو خارنه .

۳ـ د انقلابی فوق العاده محکمی د قانون د څلور می مادی دمندرجو جرمونو د مر تکبینو په خلاف د الزام د دلایلو د اقامه کولوپه‌منظور د انقلابی فو ق‌العاده محکمی په غونډو کښی ګډون کول .

٤ـ د اگسا د اختصاصی خارنوالی د خارنوالانو ، مستنطقینو او نورو مسلکی کار کوو نکو دمعلو ماتو د سطحی د لوړولو لپاره د لازمو تد بیرو نو نیول .

**شپاړسمه ماده :**

د اگسا اختصا صی خارنوال په خپلو اجرا آتو کښی د افغا نستان د دمو کرا تیک جمهو ریت لومړی وزیر ته مسوول لیت لری .

## څلورم فصل

## متفر قه حکمو نه

**اوه لسمه ماده :**

په هغو مواردو کی چی‌دغه قانون صراحت نه لری د نورو قوانینو له‌حکمونو سره سم اجراآت کیږی.

**اتلسمه ماده :**

دغه قانون په رسمی جریده‌کښی له خپریدو ورو سته نافذ یږی .

۲ـ نظارت بر اجرای وظایف و استفا ده ازصلا حیت های‌خارنوالی اختصاصی اگسا.

۳ـاشتراك در جلسات محکمه فوق العادهٔ انقلابی به مقصد اقامه دلائل الزام علیه مر تکبین جرایم مندرج ماده چهارم قانون محکمهٔ فوق العاده انقلابی .

٤ـ اتخاذ تدابیر لازم جهت بلند بردن سطح معلو مات خار نوا لها، مستنطقین و سایر کارکنان مسلکی خارنوالی اختصا صی اگسا .

**ماده شا نزدهم :**

خارنوال اختصا صی اگسا در اجراات خود نزد لومړی وزیر جمهو ری دمو کرا تیك افغانستان مسوو لیت دارد .

## فصل چهادم

## احکام متفرقه

**ماده هفد هم :**

در موار دیکه این قانون‌صراحت ندارد مطابق احکام سایر قوا نین اجرا آت صورت میگیرد .

**ماده هجد هم :**

این قانون بعد از نشر درجریده رسمی نافذ میگردد .

## وجه اشتراک سالانه

مرکز (۳۰۰) افغانی

ولایات (۳۴۰)

برای محصلان و متعلمان نصف قیمت

خارج کشور (۵۰) دالر امریکائی

THE DEMOCRATIC REPUBLIC
OF AFGHANISTAN
MINISTRY OF JUSTICE

# *OFFICIAL GAZETTE*

**Editor: A. Ghafar Giramy**
Assistant: Rohgul Noory
Issue No: 454
Date: September 6, 1979

دولتی مطبعه

قیمت این شماره ( ۲۰ ) افغانی